علمي ـ څېړنيز کنفرانس

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

# د ادبي ميراثونو ساتنه

# Protection of Literary Heritage

**Professor M. Nabi Salahi**

## Abstract

About this topic we can discuss from five angles:

Useless interference in real texts, literature Plagiarism, cultural attacks, prevention from texts copy past, violations from copyright law, literature violations and misdirection to Pashto language natural structure.

## لنډيز

پر دې موضوع له پنځو خواوو، لکه په اصلي متنونوکې بې ځايه لاسوهنه، ادبي غلاوې، فرهنگي يرغل، د کاپي پسټ مخنيوی او دکاپي رايټ له قانون نه سرغړونه، ادبي سرغړونې، لکه د پښتو ژبې د طبيعي جوړښت خلاف حرکتونه او په پښتو کې د (دال) استعمال؛ باندې خبرې او علمي بحث کېږي.

## سريزه

په دې علمي – تحقيقي کنفرانس کې د کاتبانو د خوښو او نا خوښو، د پښتو ژبې او ادبياتو په څېړنو، تأليفونو او تصنيفونو کې د بې ځايه لاسوهنو د مخنيوي په موخه يو علمي ـ څېړنيز بحث تر سره شوی دی او په دې برخه کې په اصلي بڼه د شعري او ادبي ميراثونو په ساتنه او پالنه باندې ټينگار شوی دی چې بايد د نورو د خوښې ښکار نه شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې موضوع د څېړنې او په دې اړه یو څه ویل او لیکل دا ارزښت لري چې د ادبي آثارو د کاتبانو، کمپوز کوونکو او د پښتی جوړوونکو او ډیزاینرانو دې مسئلې ته په کلکه سره پام را واړول شي چې د اصلي نسخو مراعات وکړي . د دې په څنگ کې د تازه کارو او ځوانو څېړونکو دې ته پاملرنه را اړول په کار و چې په څېړنه کې د خپل سبک ښکلا ته ډېر پام واړوي، په څېړنه کې خپل تحلیل ځای کړي، په دې برخو کې د ادبي میراثونو خیال وساتي او د نورو کرغېړنو لارو چارو له پیروي نه په جدي توگه ډډه وکړي.

## د څېړنې موخې

میراث عربي کلمه ده، په لغت کې د ارث او هغه مال یا حق په معنا دی چې له مړي څخه یو چا ته پاتې شي. د میراث کلمه زیاتره په شرعي او حقوقي مسئلو کې استعمال شوې ده، مگر همدغه کلمه د فرهنگي میراثونو د ساتنې په برخه کې هم دود شوې ده، دا چې ادبیات د فرهنگ یوه مهمه برخه ده، نو له دې امله په ادبي برخه کې هم د میراث د کلمې استعمال کوم نا بلده لغت او نا اشنا کار نه دی.

په دې مقاله کې د خپلو ادبي میراثونو او کلتور د ساتنې په برخه کې له پوهانو سره د خپلو اندېښنو او تجربو شریکول. ځوان څېړونکي پر دې پوه کول؛کله چې د نورو له فکر او تجربې نه استفاده کوي، هغه باید د هغو ملکیت وبولي، ځکه د هر دانشمند فکر او تجربه د هغو د کلونو ـ کلونو نه ستړي کېدونکي زیار او پر له پسې منډو را منډو زېږنده او محصول دي او د علم او ادب په نړۍ کې لکه د یو چا کور، موټر او اپارتمان د هغه فکري ملکیت حسابېږي. له اجازې پرته په هغو کې د ادلون بدلون حق نه لري او دا حق یواځې د لیکوال حق دی.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي- تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

**اصلي متن**

پېژندنه د میراث پر مور لازمه

فولکلوري پانگې را پاتې له پخوا څه (۱)

پروفیسر سیا ل کاکړ

تاسې به اورېدلې وي چې یونسکو او ایسسکو د نړۍ د فرهنګي میراثونو ساتنې په نامه هر کال یوه ورځ په نړۍ کې لمانځي، په ۱۳۹۸ کال کې هم دغه ورځ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په کابل کې په بابر بڼ کې ولمانځل شوه. دې مراسمو ته زه هم ورغلی وم. دې شي ما ته دا فکر راکړ چې موږ خو ادبي میراثونه هم لرو او د هغو هم ساتنه په کار ده، له دې امله مې د نوي کنفرانس لپاره د ادبي میراثونو ساتنې په نامه موضوع غوره کړه، مګر دا را نه ورکه وه چې اوس نو دا موضوع له کوم ځایه پیل کړم. په دې وخت کې د یوه څېړونکي دا خبره زما په زړه کې را وګرځېده چې زه حقیقي څېړنه هغه وخت پیل کوم چې کله په دې پوه نه شم چې اوس نو څه وکړم؟

## لومړی) په اصلي متنونو کې بې ځایه لاسوهنه

څېړنپوه زلمي هېوادمل په دې اړه د ((ریاست سوات که ریاست رامپور)) تر سرلیک لاندې یوه ډېره مغتنمه او مستنده مقاله لیکلې ده چې په ۱۳۹۶ل کال کې په زېري (جریده) کې خپره شوې ده. د دغې مقالې په لومړۍ برخه کې یې د حضرت خوشحال خان خټک او حضرت جامي پښتو او دري شعرونو ټوټې هم را اخیستې چې په هغو کې دغو دواړو نومیالیو شاعرانو د کاتبانو له غلط نویسیو او بې پروایيو داسې سرټکولی دی. هغه په دې ډول دي : ((خوشحال خان خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰ هـ ق) د فضل نامې په خاتمه کې ویلي دي:

ور دې نه شي دوه لاسه
نه تر خط نه تر قرطاسه
یو چې خام بېهوده خط کښي
بل که ښه کښي چې غلط کښي
دکاغذ مخ توروینه
خط چې خام بېهوده کښینه
خدای یې واخله که ښه خط کښي
که یې جای په جای غلط کښي

په لومړیو بیتونو کې د خوشحال شکایت له هغو خطاطانو څخه دی چې غلط نویسي- کوي. تر خوشحال د مخه د شرقي فرهنګ او زموږ د هېواد ډېرو نومیالیو د خطا نویسو

کاتبانو له تېروتنـواو بـې پروايیـو پېښـو او غلطیـو ډېـر شـکایتونه کـړي دي، لکـه حضـرت جامي (۸۱۷-۸۹۷ هـ ق) چې یو ځای د یو کاتب له بې پروايیو داسې ژړا کړې ده:

فغان از دست آن کاتب که کلکش

به بیش وکم نویسي شد فسانه

زبیش وکم نویسی های او شعر

زبحرو وزن ماند برکرانه

نوشت از مثنوی بهرم کتابی

که چون جویم ز نظم آنجا نشانه

نیابم زان نشانه جز بیاضی

که دارد هردو مصرع درمیانه

اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد د خپلی یوې مقالې (دخوشحال خـان پـه چـاپي آثارو کې ځینې مغشوشې کلمې) په مقدماتی خبرو کې د کاتبانو د غلطیو پـه اړه کښـلي دي :"زیاتره متنونه ..... که خطي وي که چاپي څه نا څه ګډوډی یا تېروتنې لري . دغـه ګډوډی یا تېرو تنې کله دکاتبانو له ژر لیکونو او بې پروایيو څخه زېږي او کلـه د نـافهمی او صورت نویسی څخه ....." (۲) .

استاد هېوادمل زیاتوي: "دبېلا بېلو عواملو له امله د کاتبـانو تېروتنـو د شرقـي فرهنـګ په تاریخ کې ځینې داسی تېروتنې رازېږولې چې له یـوه ځایـه یـې پـه تسلسـل سره نـورو آثارو ته سرایت کړی دی او کله هم د کاتب یوې دغسې تېروتنې د تاریخي سـند حیثیـت ځانته غوره کړی او سمون یې آینده څېړونکو ته ډېرې ستونزې وردمخه کړې دي .

په دې لیکنه کې چې زه پرکـومې موضـوع بحـث کـوم، دیـو خوشـنویس یـا کاتـب لـه سهوې را زېږیدلې او دې یوې سهوې بیا ورو ورو نور ابعاد پیدا کـړي او د غلطـو توجیهـاتو او تعبیرونو یوه لړی یې جوړه کړې ده ." (۳)

استاد اسدالله غضنفر د څېړنپوه زلمي هېوادمل له قولـه: ((لـه علومـو اکـاډیمي څخـه یـوه غوښـتنه)) تـر سرلیـک لانـدې مطلـب کـې داسـې لـیکلي دي: "زمـا پـه خیـال د افغانستان د تـاریخ، کلتـور، ادبیـاتو او فرهنګـي هویـت د خونـدي کولـو لپـاره د مهمـو او تاریخي آثارو په کمپوزکولو او تر انټرنیټ پورې رسولو کې د افغانسـتان د علومـو اکـاډیمي تر بلې هرې ادارې ښه برخه اخیستلای شي.

يوه ورځ سرمحقق زلمي هېوادمل ويل چې اکثره پخواني ديوانونه او آثار چې ناشران يې خپروي، له بې شمېره غلطيو ډک دي. ده د مثال لپاره د خوشحال خټک ديوان ياد کړچې په وروستيو کلونو کې څو ځله چاپ شو، خو تېروتنې په کې زياتې دي.» (۴)

دغه شان، دکتور محمد حليم تنوير،((مثنوی معنوی نسخه قونيه)) اثر، د ((پيشگفتار)) د لومړي مخ په دويم پراگراف کې داسې ليکلي دي: «من که يکی از رهروان انديشه مولانا هستم، از ساليان متمادی جسته گريخته تحقيقاتی در زمينه نسخه اصلی (قونيه) داشتم و اين نسخه را طور مقايسوی با نسخه های نيکلسون و نسخه های پراگنده که درکشور های مختلف به نشر رسيده بود، زير مطالعه قرار داده و ابياتی را که در نسخه های قونيه هيچ ذکر به عمل نيامده و اصلاً از سروده های مولانا نيست ويا در ابياتی که کلمات بر آن اضافه شده و يا با نسخه اصلی(حسام الدين چلبی) مطابقت نداشته، از ديگر نسخه ها بيرون نويسی کردم.» (۵)

بيا زياتوي :«نسخه قونيه عبارت از نسخه شماره ۵۱کتابخانه موزيم مولانا در قونيه است که همه دفتر های شش گانه را در بر دارد و نسخه کنونی را که شما مطالعه ميکنيد به اساس همين نسخه تهيه شده است، در مورد اين نسخه بايد گفت که مرکز تحقيقات مولاناشناسی در قونيه تمام نسخه های مثنوی را که بعد از وفات مولانا نوشته شده است، مقايسه کرده و نسخه تحرير شده حسام الدين چلبی که همه دفتر های شش گانه را در بر دارد، مورد تاييد مراکز علمی و تحقيقاتی است.» (٦)

بيا داسې راوړل شوي دي: «ابيات منسوخ و تحريف شده در مثنوی معنوی، ابياتی که در مثنوی از مولانا نيست، به اساس نسخه حسام الدين چلبی – قونيه ٦۷۷هـ . ق.\٦۵۷ش\۱۲۷۸م.

ابياتی که از مثنوی معنوی مولانا جلال الدين محمد بلخی نيست و در نسخه های متفاوت جا داده شده، بعد از بررسی و تحقيق در سه بخش متفاوت آمده است:

۱. ابياتی که در متن اصلی قونيه نيست.
۲. ابياتی که کلمات آن تغيير داده شده است.
۳. ابياتی که در حاشيه متن اصلی نوشته شده است.
۴. ابياتی که در نسخهء نيکلسون نيامده است.

در این ابیات هر دوگونه (اصلی) و (تحریف شده) با ذکر شماره بیت و دفتر مثنوی بیان گردیده است.» (۷)

همداسې حالت د خوشحال خان خټک د دېوان په برخه کې ده چې اصلي نسخه يې د افغانستان د علومو اکاډمي له کتابتون نه، استاد حبيب الله رفيع تر لاسه کړې او چاپ کړې ده او پوره ۱۰۰ مخه سريزه يې پرې ليکلې ده. مخکې کومې لاسوهنې، سهوې او تېروتنې چې د خوشحال خان خټک په چاپي دېوان کې شوې، د خوشحال د دېوان له اصلي نسخې سره توپير لري او د خوشحال په لاس يې ليکل شوې اصلي نسخه معيار نيولې او همداسې بايد وي، څکه چې په هغو کې د هېڅ راز شک او شبهې ځای نه پاتې کېږي.

په اوس وخت کې په اصلي متن کې د کمپيوتر کار، پښتنی جوړوونکي او ډيزاينر ناوړه لاسوهنه او له اصلي متن نه سرغړونه در واخلئ. د نمونې په توګه: په دې وروستيو وختونو کې د (فيل او ملخ) (۸) په نامه يوه کيسه، ما (محمدنبي صلاحي) له دري نه پښتو ته ترجمه کړه. کله مې چې د اثر اصلي متن د رامين نقشبندي په نامه يوه ډيزاينر ته د پښتنی جوړولو او ډيزاين لپاره وسپاره، هغه زما له اجازې پرته د اضافت يو دال دا ثر په سرليک کې داسې ور زيات کړی و: ((د فيل او ملخ)). کله چې اثر چاپ شو، د هغه يوه دال په سبب مو د ۱۰۰۰ ټوکه اثر پښتنی ببرته له سره چاپ کړې او هم يې د نومړي اثر په ۲۱ مخ کې په اصلي متن کې بې ځايه لاسوهنه کړې وه او له هر ډول اجازې پرته يې جملې ښکته پورته کړې وې، د بېلګې په توګه:

اصلي متن: «د فيل زوی پينکو د دغه حالت په ليدلو سره له ځمکې نه په خپل خړطم کې يوه منه را پور ته کړه او د خر مرغه پر لور يې ور واچوله. منه د هغه په کوټر ولګېده او خر مرغه د (( قغ قوغ اخ او واخ )) غږونه کړه او وتښتېده.

جعلي متن: د فيل زوی پينکو د دغه حالت په ليدلو سره له ځمکې نه په خپل خرطم کې پر لور يې ور واچوله، يوه منه را پور ته کړه او د خر مرغه منه د هغه په کوټر ولګېده او خر مرغه د ((قغ قوغ اخ او واخ)) غږونه کړه او وتښتېده.» (۹)

دغه راز، زه يوه ورځ په يوه ادبي غونډه کې د شمشاد تلويزيون په تالار کې ناست وم چې يو چا د خوشحال خان خټک په دغه لاندې نامتو بيت کې د ((دستار)) لفظ، له خپله ځانه په ((پټکي)) بدل کړی و او هغه يې داسې ولوست: اصلي بيت:

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي
(خوشحال خان خټک)

د پورتني بيت اوښتې بڼه:

چې پټکي تړي هزار دي
د پټکي سړي په شمار دي
(...)

## دويم) ادبي غلاوې

لومړی ادبي غلا د سندي څېړنې پر بنسټ در پېژنو او بيا يې ښکاره او معلومې نمونې درکوو: ((د ادبي غلا په اړه يې په ((مريم ويبسټران لاين ډيکشنري )) کې داسې ليکلي دي: اکثره کسانو د بل چا دکار کاپي کول او يا په ځان پورې د لومړني کس د ليد لوري تړل ادبي غلا بللې ده. کاپي کول او په ځان پورې د بل چا د ليد لوري تړل يوه کلکه قانوني او اخلاقي سرغړونه ده.

همدا ډيکشنري زياتوي : ادبي غلا په حقيقت کې د بل چا له کار او حاصل څخه په خپل نامه ګټه اخيستل دي.که چېرته له اصلي سرچينې څخه د ګټې اخيستلو وروسته سرچينه ياده نه شي، نو دا يوه ټګي ده او نه يواځې د يو چا د زيار او هڅو غلا ده، بلکې د هغه په اړه درواغ ويل هم دي.)) (۱۰)

استاد اسدالله غضنفر په دې اړه داسې ليکي: ((اکثره غلاوې په چالاکۍ سره تر سره کېږي. شاعر يا ليکوال الفاظ بدل را بدل کړي. يو نوی رنګ ورکړي او په ظاهره نوي ښه ووايي، خو د پوهې خاوندان ور باندې پوهېږي چې شی پردی دی.)) (۱۱)

دا ډول موارد ښايي يو شمېر پوهان ((توارد)) وبولي، خو ځينې نور څېړونکي يې بيا ((بل ډول)) تعبيروي او ورته کلکه ګوتڅنډنه کوي، د بېلګې په توګه: ((داسې مثالونه نه يواځې په اوسنۍ ادبي دوره کې ډېر تر سترګو کېږي، بلکې د پښتو ادبياتو په منځنۍ ادبي دوره کې يې هم ميندلی شو. د نمونې په توګه:

صوفي شاعر رحمان باباخپل يو مشهور نعت شريف په دې بيت پيلوي:

که صورت د محمد (ص) نه وای پيدا
پيدا کړې به خدای نه وه دا دنيا

پیرمحمد کاکړ هم له ده وروسته خپل یو نعتیه کلام په همدې قافیه او یو څو تورو په بدلون او د دویم ټول نیم بیتي په راوړلو داسې لیکلی دی:

اول نور که د رسول نه وای پیدا
پیدا کړې به خدای نه وه دا دنیا

بله نمونه: د پښتو ادبیاتو د یوه کلاسیک شاعر د شعر یو بیت د معاصرې دورې یوه شاعر داسې راوړی دی :

د عبدالقادرخان خټک یو بیت داسې دی :

چې پرې غم غلطوم درې مې محرم دي
یو قلم، دویم کتاب، درېیم اشعار خپل

قلندر بیا دا شعر په دې ډول په خپل ځان پسې لیکلی دی:

چې پرې غم غلطاوه شي هغه درې دي
یو قلم، دویم بیاض، درېیم اشعار خپل.» (۱۲)

بل مثال: په اوسنۍ دوره کې د یوه معاصر شاعر شعر(( زه پوهېږم)) ، د بل چا له خوا غلا شوی:

را روان به موج خون شي زه پوهېږم....
سلیمان لایق

دا د هغه شعر د سر یو نیم بیتی دی چې په شپېتمو کلونو کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې په خپرني ارگان ژوندون( مجله) کې په اوښتې بڼه د (( ټول پوه شوي)) تر سرلیک لاندې د بل چا په نامه داسې خپور شوی دی:

را روان به موج خون شي ټول پوه شوي ....
(...)

په ور پسې گڼه کې دواړه شعرونه ((زه پوهېږم)) او((ټول پوه شوي)) څنگ په څنگ خپاره شول او په دې اړه دوو لیکوالو هر یوه فیض الله توده یې په ژوندون (مجله) او څېړنپوه نورمحمد سهیم د زېري (جریدې) له لارې په ۱۳۶۳کال کې چاپ کړل. په دې ډول ډېر ژر حق حقدار ته ورسېد. له دې امله دا هم د ادبي میراثونو د ساتنې په ډگر کې یوه ډېره جدي ستونزه ده، د پوهانو باید تل ور ته پام وي او په کلکه سره یې مخه ونیول شي چې دا یې یو څو نمونې وې.

همداسې یوه ځوان د غني خان یو شعر د افغانستان قلم ټولنې په یوه مشاعره کې د ګڼو شاعرانو او لیکوالو په مخکې د خپل ځان د شعر په نامه ولوست او د غونډې د برخه والو له خوا ډېرې چکچکې هم ور ته وشوې. په پای کې مې هغه راوغوښت چې د غني خان شعر دې ډېر ښه ولوست او له دې معلومېږي چې ته تل د غني خان شعرونه لولي او دا اعلان مې په هغه غونډه کې هم وکړ چې شعر د غني خان دی او نوموړی ځوان د شعر ښه ویونکی دی. دا او داسې نورې نمونې چې مثالونه یې په مطبوعاتو کې دقیق کتونکي میندلی شي.

د دې په څنګ کې یو څېړونکی چې د یو چا له شفاهي او لیکنیو بیانونو، علمي معلوماتو، کتابونو او آثارو نه کوم ټکی را اخلي، باید لازمي د هغو یادونه وکړي. دا کار د پوهانو په منځ کې د څېړونکي علمي اعتبار زیاتوي چې په عین حال کې د هغه د څېړنیزې لیکنې د علمي وزن د زیاتېدو سبب هم ګرځي. کومه سرچینه او ریفرنس چې څېړونکي نه وي لیدلی او د یو بل اثر له مخې یې له مطالبو نه ګټه اخلي، ور ته لازمه ده چې د اصلي ریفرنس حواله ور نه کړي، بلکې د هغه اثر نېغ په نېغه حواله ور کړي چې ده ترې استفاده کړې وي.

## درېیم) فرهنګي یرغل

په شپیتموکلونو کې ؛ په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د تېري په وخت کې، په کابل پوهنتون کې د دې لپاره زیات کوښښونه وشول چې د پخواني شوروي اتحاد په څېر له محصلینو څخه د قناعت آزموینه واخیستل شي. د استادانو او محصلینو له لوري په دې اړه پر له پسې مقاومت وشو او ان تر دې چې دا سیستم رد شو. په پای کې دا خبره د یوه روسي سلاکار تر غوږو ورسېده، هغه وویل: «امتحان چې هر ډول اخلئ، وایئ خلئ، مګر نوم یې زچوت کېږدئ!» له دې نه موږ معلومولای شوچې بهرنیان تل کوښښ کوي چې خپل فرهنګ پر نورو ملتونو ور وتپي. له دې امله لازمه دا ده چې په دې اړه موږ د خپلو ادبي میراثونو ساتنې ته متوجه واوسو او د بهرنیانو له یلغار نه یې وساتو. له بهرنیو ژبو ژباړې د داسې کسانو په لاس ور کړو چې د ژباړې په برخه کې مسلکي وي، له بده مرغه په دې تېرو څلوېښتو کلونو کې د داسې کسانو له خوا هم ترجمې شوې دي چې د ژباړې په لاره هم نه دي تللي.

استاد اسدالله غضنفر له کلتوري یرغل سره د مقابلې په خاطر د یوې ښې لارې وړاندیز کوي او په دې برخه کې د افغانستان د علومو اکاډمي د نورو ادارو په پرتله مخکې او غوره بولي، هغه لیکلي دي: «موږ کله ـ کله له کلتوري یرغله وېره څرګندوو.

له دې يرغل سره د مقابلې يوه ښه لاره دا ده چې د افغانستان د ژبو، تاريخ، کلتور او هويت په ګټه مهم آثار انټرنيټ ته وسپارل شي چې يو افغان که د دنيا په هر ګوټ کې وي، له خپل تاريخ او فرهنګ سره يې رابطه و نه شلېږي.» (۱۳)

نوموړی زياتوي : «علمي تحقيقاتو ته هغه وخت د خلکو توجه اوړي او په درنه سترګه ور ته ګوري چې د خلکو ضرورت ته ځواب ووايي. د افغانستان د علومو اکاډمي ته په کار ده چې په خپلو تحقيقاتو کې د خلکو محسوسو اړتياوو ته پام واړوي. لکه څنګه چې مې وويل د هېواد او هېوادوالو د نن ورځې يوه مهمه علمي اړتيا دا ده چې کلاسيک آثار او مهمې ليکنې د با صلاحيته کسانو تر نظر لاندې کمپوز او انټرنيټ ته وخېژول شي.

د کمپيوټر په مخ مطالعه د چاپي کتاب تر مطالعې سترګې ژر ستومانه کوي؛ د انټرنيټ په ليکنو باندې استناد ځينې مشکلات لري؛ او بالاخره په انټرنيټ کې راغلې ليکنې کله کله بېخي ورکې شي. دغسې مشکلات خو شته، مګر له انټرنيټ سره د اړوندې ټکنالوژۍ چټکه وده، له انټرنيټ او کمپيوټر سره د وګړيو ډېرېدونکې بلدتيا او د مختلفو رسنيو په اړه احصاييې مو په دې باورې کوي چې نن سبا کامياب ملتونه او کامياب تحقيقي مرکزونه هغه دي چې د نړيوال جال په اهميت او اغېز ښه پوهېدلي دي.» (۱۴)

## څلورم: د کاپي پسټ مخنيوی او دکاپي رايټ له قانون نه سرغړونه

«د ((COPY,PASTE)) اصطلاح دوې انګليسي کليمې دي چې لومړۍ يې له يوه ځايه د يوه متن د اخيستلو او دويمه يې په بل ځای يا ځانګړې پاڼه کې د هغې کاپي کولو ته وايي او اوس دغه موضوع د کاپي پسټ په نامه مشهوره شوې ده.» (۱۵)

په دې اړه دا خبره کول غواړو چې زموږ ګڼو څېړونکو به ليدلي وي چې يو اثر د يو چا په نامه چاپ شوی او دا ټکی هم پرې ليکل شوی چې د دې کتاب د چاپ حق محفوظ دی، مګر بيا چې ګورې، هماغه کتاب له يوه بل ځای نه او د بل چا له خوا د مصنف او مؤلف له اجازې پرته بل چا او بلې ادارې بيا چاپ کړی دی چې دا سمه خبره نه ده. ترکومه ځايه پورې چې موږ معلومات لرو، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په دې اړه يو قانون چې د کاپي رايټ قانون نومېږي، هم تصويب او پاس کړی دی. له دې امله درنو پوهانو ته په کار ده چې دغه ټکی يې په پام کې وي او سرغړوونکو ته يې سزا هم په پام کې نيول شوې ده.

په دې اړوند لومړۍ خبره کول دا ده چې ځينې کسان څېړنه، نه بلکې اړول او را اړول کوي او ليکنه يې د کټ کاپي سطحې ته را ټيټه کړې ده او دا کار ګناه ده. په کومه څېړنه

کې چې د څېړونکي خپل تحليل نه وي، موږ هغه څېړنه، نه شو بللی او ځوان ليکوال بايد له دغه ډول (( تحقيق)) نه په کلکه سره پرهېز وکړي. هر ليکوال د ليکنې خپل روش لري. که دوه کسان يو ډول فکر وکړي، معنا دا چې يو يې نظر نه لري. همدا شان يوه ليکنه د دوو کسانو په نامه خپرېدنه او په دې اړه د کټ کاپي له شبوې نه ګټه اخيستنه، يو غير علمي کار دی. هر څېړونکي ته په کار ده چې په خپله څېړنه کې له ټولو هغو لارو چارو او وسايلو نه ګټه واخلي، کوم چې د هغه د تحقيقي موضوع د څېړنې لپاره ضرور دي. له شک پرته د يوې سمې او روغې څېړنې بنسټ، په وړ او مناسب تحليل باندې ولاړ دی.

## پنځم) ادبي سرغړونه

**الف)** د پښتو ژبې د طبيعي جوړښت خلاف حرکتونه .

**ب)** په پښتو کې د د (دال) استعمال.

د ادبي سرغړونې تر سرليک لاندې بحث کې اصلي خبره دا ده چې پښتو ژبه خپل پيدايشي او طبيعي مسير او جوړښتونه لري او په هغو کې د دې ژبې د ويونکو او د هغوکسانو لپاره چې پښتو ژبه زده کوي، ډېرې اسانتياوې شته. له دې امله زموږ هدف او پر هغه ټينګار هم دا دی چې دا ژبه خپل پيدايشي او طبيعي مسير ته پرېښودل شي؛ ځکه ((پښتو د سيستم له لارې ښه وده کولای شي)) (١٦ )

د نمونې په توګه: په پښتوکې د دالونو د سمې کارېدنې په اړه ويلی شوچې: «د[دال] په پښتو کې د اضافت توری دی او د ملکيت ښودنه کوي. له بده مرغه ځينې کسان په خپل سر د پښتو ژبې د پيدايشي طبيعت پر خلاف يا دالونه ډېر او بې ضرورته استعمالوي او يا يې په مطلق ډول خوري او په کوم ځای کې چې راوړل يې اړين دي، حذفوي يې. له بده مرغه نن سبا په پښتو کې د (د) حذف کوونکو شمېر زيات شوی دی. اصلي خبره دا ده چې د دالونو استعمال بايد د اړتيا له مخې په ليکنه کې راوړل شي او د لزوم ديد له مخې حذف شي. له دې امله پښتانه پوهان بايد دغه ټکي ته په کلکه سره پام وکړي او هغه کسان چې د پښتو ژبې د قانون په ورانولو لګيا دي، په ښه وجه يې پوه کړي.» (١٧ ).

د دې په څنګ کې دا خبره کول هم لازمي بولو چې په ادبي سرغړوونکوکې د جعلي او اصلي متنونو د بېلولو په برخه کې ډېره پاملرنه په کار ده. په دې اړه (د متن څېړنې ميتودولوژي) کې داسې ويل شوي دي: «په پښتو کې هم ځينې داسې متنونه موندی شو چې پر اصالت يې شک کېږي. لکه د عبدالرحمن بابا مومند د ديوان په بېلابېلو نسخو

کې چې د بابا په نامه کوم اضافي شعرونه موجود دي. دا ډول شعرونه زیاتره داسې شعرونه دي چې د رحمان بابا د عصر د ژبې خصایص په کې نشته. سرمحقق دوست شینواري د رحمان بابا په دېوان کې ځینې دغه ډول شعرونه په نخښه کړي دي. د سرمحقق دوست په نخښه کړي شعرونه د رحمان بابا نه شي کېدای.» (۱۸)

په نوموړي اثر کې دا هم لیکل شوي دي: «دغه ډول د پښتو د پښتو اکېډمي په خطي مجموعه کې د شهنواز په نامه یو دېوان شته چې محققین یې پر اصالت شک لري او ویل کېږي چې د شهنواز په نامه دېوان جعلي دی او چا د پیرمحمد کاکړ په شعرونو کې لاس وهلی او د شهنواز په نامه دېوان یې ځینې جوړکړی دی.

همدا راز د افغانستان په ملي ارشیف کې د ملا امان په نامه یو دېوان موجود دی. د ملا امان په نامه دېوان په اصالت کې هم شکوک موجود دي او جعلي متن بللی شي، وایي چې د عبدالقادر خټک شعرونه یې په خپل نامه اړولي دي. دغه راز ځینې نور متون هم شته چې پر اصالت یې شکوک موجود دي او متن پوهنه یوازینی علم دی چې د هغې د موازینو او اساساتو په مرسته کولای شو جعلي او اصلي متون سره بېل کړای شو.» (۱۹)

## پایله

پورتني پنځه واړه موارد داسې ضروري ټکي دي چې کله نا کله پېښېږي، پر هغو ځان خبرول او په دې اړه د ادبي میراثونو ساتنه د هر لیکوال، شاعر، څېړونکي او فرهنګي دنده ده. دا ټکي زموږ د ادبي میراثونو د ساتنې په برخه کې ډېر مهم دي او باید د ټولو له خوا په کلکه سره ور ته پاملرنه وشي. لږ دې ولیکل شي، ښه دې ولیکل شي. د نورو آثار اړول او راړول او اصل مسخ کول نه دي په کار، هر څه چې وي باید د لیکوال خپل وي. له دې امله دا خبره کول لازمي بولو چې که په سیاسي مسایلو کې سازش وشي، په راتلونکې کې ډېرې ستونزې را پورته کولای شي، خو په ادبي او علمي مسایلو کې سازشونه، ناورین(فاجعه) را منځته کولای شي او په علمي ډګر کې دا ډول سازشونه تر سیاسي سازشونو ډېر د افغانستان لپاره خطرناک دي چې باید په کلکه سره یې مخه ونیولی شي

## وړاندیزونه

د ادبي میراثونو ساتنې لپاره تر ټولو ښه لاره د سالمې ادبي کره کتنې پراختیا او دودول مناسب بولو او له شک پرته سالمه ادبي کره کتنه، د ادبیاتو په پرمختیا او پراختیا کې وړ مرسته کولای شي.

## مأخذونه

۱. کاکړ، سیال. ملي انځور، کوټه ـ پښتو اکېډمي: یونایټیډ پرنټرز، ۲۰۱۷ م. کال، ۱۸مخ.
۲. هېوادمل، زلمی. ریاست سوات کـه ریاست رامپـور، زېرې(جریـده)، ۱۳مـه گڼـه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳۹٦هـ. ش کال، ۱مخ.
۳. پورتنی مأخذ، ۱ مخ.
۴. غضنفر،اسدالله.کلتور او ټولنـه، لـومړی چـاپ، مومنـد خپرندویـه ټولنـه: جـلال ابـاد، ۱۳۹۳ هـ. ش کال، ۵۳ مخ.
۵. تنویر، محمدحلیم. مثنوي معنوي(نسخه قونیـه)، لـومړی چـاپ، کابـل، د اطلاعـاتو او فرهنگ وزارت: کابل، ۱۳۸٦هـ. ش کال، ۱ مخ.
٦. پورتنی اثر، ۲ مخ.
۷. هماغه اثر، ۵ مخ.
۸. حامد، سمیع. ژباړن: صلاحي، محمدنبي. فیل او ملـخ (د کوچنیـانو لپـاره کیسـه)، د افغانستان قلم ټولنه: کابل، افغان مسلکي چاپخونه: ۱۳۹۷هـ. ش کال، پښتی: ۱مخ.
۹. پورتنی اثر، ۲۱مخ.
۱۰. رحماني، گـل رحمـن. د پښـتو شعر اوسـنی بهیـر(د ماسـټرۍ تېـزس)، د افغانسـتان مـلي تحریک فرهنگي ځانگه: کابل، ۱۳۹۴هـ.ش کال، ۲۲۲مخ.
۱۱. پورتنی اثر، ۲۲۹مخ.
۱۲. هماغه اثر، ۲۳۰مخ.
۱۳. غضنفر، اسدالله. کلتور او ټولنه، ۵۳ مخ.
۱۴. پورتنی اثر، ۵۳مخ.
۱۵. رحماني، گل رحمان. د پښتو شعر اوسنی بهیر (د ماسټرۍ تېزس)، ۲۲۳مخ.
۱٦. صـلاحي، محمـدنبي. نـوي ادبي یادښـتونه، د افغانسـتان قلـم ټولنـه: افغـان مسـلکي مطبعه،کابل، ۱۳۹۵هـ . ش کال، ۱۴مخ.
۱۷. صـلاحي، محمـدنبي. فرهنگـي سـتراتیژي، د افغانسـتان قلـم ټولنـه: افغـان مسـلکي مطبعه،کابل، ۱۳۹٦هـ . ش کال، ۱۵مخ.
۱۸. هېوادمل، زلمی. د متن څېړنې میتودولوژي، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیـاتو مرکز: کابل، امیري انتشارات، ۱۳۸۹هـ.ش کال، ۲۵مخ.
۱۹. پورتنی اثر، ۲٦ مخ.